# ژبپوهنه: یوه پېژنګلو

# Linguistics: An Introduction.

Dr. Faqir Muhammad Faqir [1]
faqirm8@gmail.com

Issn 2304-1463

**Abstract**:

Linguistic is scientific study of language. Linguistic is derived from Latin word linguistique. Lingua means language and linguistiqua is knowledge about language in pass it is called Philology which is make from Greek words philoy and logos meaning love and knowledge. It mean love to knowledge. The term of Philology not perfect for linguistic because it is used in England for historical and comparative linguistic but in Germany & France this term is used for literature and cultural study. In 1716 it is called glosology. Linguistic is description of language in which, we study history, structure, morphology, etymology, Phonetics, also changings in language.

**Key words**: Introduction of linguistics, History of linguistic, Morphology, Grimmer, Arabic and western linguistics

لسانيات لفظ د عربۍ له توري لسان يعنې ژبې او ورسره د "يات" لاحقه يا پيسنه د ژبې په اړه د علم او پوهې معنا ښکاره کوي. چې بنيادي طور د لينګويسټک (Linguistic) ترجمه ښکاري.

د انګريزۍ لينګويسټک د لاطيني ژبې د Linguistique نه شهرت موندلے دے. د Lingua مطلب ژبه دے او د غه پوره توري لکه د لسانيات د ژبې علم دے. په اردو ژبه کښې د علم زبان يا د لسانيات اصطلاح مستعمله ده. د بولي ګيان نوم هم ورته اخستلے شوے دے خو لسانيات د عمومي شهرت مقام تر لاسه کړے دے. چې د ژبې د سائنسي مطالعې، څېړنې او سپړنې پوهه ده.

لسانيات ته اول اول فولوجي (Philology) وئيلے کېدلو. چې د يوناني ژبې د تورو Philoy او Logos نه ماخوذ دے. مطلب ئې بالترتيب محبت او علم دے. يعنې د علم سره محبت يا د ژبې سره مينه.

---

[1] Lecturer Pukhtumkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsadda.

د وخت تېرېدو سره سره دې لفظ متنازعه شکل اختیار کړو. یا به دا وو ایو چې دغې اصطلاح عام مقبولیت ځکه حاصل نهٔ کړو چې که هر څو انګلستان کښې ئې د تاریخي او تقابلي لسانیاتو مفهوم تر سره کولو خو فرانس او جرمني کښې د ادبي پنګې یا ذخیرې، دستاویز د پاره بل دا چې د تهذیب، ثقافت او تمدن جایزې او مطالعې ته هم فلولوجي وئیلے شول. په دې کښې د لرغوني دور د ادب تفسیر، وضاحت او څېړنه هم راتله او دا لفظ د ژبې د پاره په خصوصي توګه محصوص نهٔ وو.

خلیل صدیقي لیکي:

> "ان دستاویزات کے مطالعے سے قومی ثقافتوں کا جائزہ بھی ہوتا رہا اور گرامر کے ساتھ ساتھ قومی ثقافتوں کے مطالعے کا رواج عام ہونے لگا۔ ثقافتی روایات کے مطالعے کو "فلولوجی" کے نام سے موسوم کیا جانے لگا۔ جرمن فلولوجی، فرنچ فلولوجی جیسی ترکیبیں عام ہو گئیں۔ بنیادی طور پر فلوجی کسی قوم کی ثقافت اور روایات کے مطالعے کا نام تھا لیکن بتدریج اس پر ادب اور زبان کا ضمنی مطالعہ بھی شامل ہو گیا۔"[1]

ترجمه: دغه قسمه دستاویزاتو کښې د قامي ثقافت جائزه هم شامله وه او په دې کښې د ګرائمر سره سره د کلتور د مطالعې رواج هم عام شو. د ثقافت او تهذیب مطالعې ته فلولوجي ووئیلے شو. د جرمن فلولوجي او فرانس فلولوجي ترکیبونه عام شول. په بنیادي توګه دا تورے د ثقافت او روایاتو د پاره مخصوص وو. خو د وخت په تېرېدو ئې د ژبې او ادب د مطالعې ضمني مفهوم هم خپل کړو.

د فلولوجي اصطلاح د ژبې د سائنسي مطالعې مفهوم نه پوره کوي. په دې که یو اړخ تهذیب ثقافت، تمدن، روایات او اقدار هم مطالعه کولے شي او د ژبې ادب د پاره هم استعمالولے شي. او لسانیات خالص د ژبې د سائنسي مطالعې نوم دے. د دې نه علاوه ډیویر ورته په ۱۷۱۲ء کښې د Glossology نوم ورکړے وو.

په عربۍ کښې اول اول د علم اللغة او فقه اللغة فارسۍ کښې زبان شناسي او پښتو کښې د لسانیات سره سره ژبپوهنه هم رائج دے.

د فلولوجي اصطلاح اوس هم د بعضې پوهانو له خوا استعمالېږي او هغه هم عموماً په پښتو کښې یا ځینې ئې اردو کښې هم استعمالوي. دا اصطلاح د لسانیات نه لنګویسټک یا ژب پوهنې معنا او مفهوم نۀ پوره نو استعمال ئې دغې مفهوم د پاره په لسانیاتو د علم د کمي علامت دے. د ادارو له خوا هم دغسې غلطۍ شوي دي لکه، باچا خان یونیورسټۍ کښې د ایم فل د کورس په دویم سمسټر کښې د لسانیات یا لنګویسټک په ځائے د ژبې دغسې علم ته فلولوجي وئیلے شوي دي.

فضل میر خټک فضلیات کښې لیکي:

"لسانیات عربۍ کښې ژبې ته وائي. په دې مناسبت سره لسانیات د ژبې متعلقاتو ته وائي خو په اصطلاح کښې د ژبو علم ته لسانیات وائي. لسانیات د ژبې په پېداوښت، مرګ، عروج و زوال، جوړښت او ماهیت خبرې کوي. د لسانیاتو مقصد او مدعا د ژبې تاریخ، د ژبو تړون او تعلق، معنوي جوړښت، ظاهري تقسیم او په ډله بندۍ بحث کوي. د لسانیاتو د پاره د فلولوجي اصطلاح هم راځي." [2]

د لسانیاتو د تعریف او توضیح د پاره د حوالې دغه ټولې خبرې ښخې سمې دي. خو د فلولوجي د اصطلاح استعمال متنازعه دے او اوس خو په عالمي کچ د ژبې علم سائنس ګرځېدلے دے او د لنګویسټک په نوم یادېږي.

په لسانیاتو یا ژبپوهنه کښې د ژبې په پېدائش، ابتداء، جوړښت، بنیادي ماخذ، بدلون او تعبیر، د تبدیلۍ په وجوهاتو او اسبابو، ارتقائي مرحلو د لفظونو په اشتقاق، صوتیات، فونیمیات، ګرائمر، قاعدو، اصولو او تاریخ عرض دا چې د ژبې معلق کلهم علم د دې په دائره کښې راځي.

> “Linguistics is the science that describes and classifies languages the linguist identifies and describes units and pattern of the sound system, the words and morphemes and phrases and sentences that is the structure of language”.[3]

ترجمه:

لسانيات په سائنسي توګه د ژبې د توضيح او تشکيل دنده ترسره کوي. د ژبپوهان کار د صــوتي نظام تشــريح او دوي مختلفو طور طريقو وضــاحت د ے لکه لفظونه، مارفيم او جمله سازي چې د ژبې بنيادي جوړښت وي.

هم په دې خبرو کښــې مارټن ګرے (Martin Gray) د معنيات ، تاريخ اور جغرافيه اضــاه کړے ده، او ليکي چې:

> "The scientific study of language the word … a number of different approaches, including semantics, phonetics description of languages and their history and geographical distribution."[4]

ترجمه:

د ژبې په سائنسي طريقه مطالعه کول ژبپوهنه ده. دا لفظ په خپل وجود کښې ګڼي معنې رانغاړي لکه د معنوياتو علم، د غږ پوهنې علم او د ژبې توضــيح، تاريخ او جغرافيائي وېشــنې علم او اصول په دې کښې شامل دي.

په لسانيات کښې د ژبې د هر اړخ مطالعه کولے شي. دا هم معلومولے شي. چې ژبه څۀ ځيز د ے. د ژبې اهميت او ضرورت څۀ د ے. د دې قاعدې او اصـول څۀ دي. د دې ماهيت، جوړښت، ترکيبي اجزاء د دې اوازونه، لفظونه، معنې څۀ چې پوره نظام د نظر لاندې راوســتلے شــي. ځکه خو محي الدين قادري زور د لسانياتو په اړه خپل خيال په دې رنګ څرګندوي.

> "زبانوں کا تجربہ، ان کی تاریخ، ان کے باہمی ارتباط، ان کی معنوی ساخت اور انکی گروہ بندی پر غور وخوض کرنا لسانیات کا سب سے بڑا مقصد ہے۔"[5]

ترجمه:

د ژبو تجرپه، تاريخ، د ژبو خپلو کښې رابطه، د معنو جوړښت او په ډله بندۍ غور و فکر د لسانياتو عرض او مقصد دے.

لسانيات د ژبې د ټول نظام څرګندونه کوي چې په معنو کښې صوتيات، ګرائمر او قواعد بنيادي حېثيت لري. ځکه چې د دې نه بغېر په ژبه او د ژبې په ماهيت پوهېدل ګران دي. د دنيا ټولې ژبې دغه قاعدې لري که د چا رسم الخط شته او که نا خو دغه اصول لري. ځکه ژبې دي. که مونږ مورنۍ ژبه بغېر د ګرائمر د زده کړې زده کولے او وئيلے شو نو د دې مطلب دا نه دے چې دا د ګرائمر محتاجه نۀ ده. ماشوم چې ژبه زده کوي نو د چاپېر چل يعنې مور، پلار او نورو خلقو نه ئې زده کوي او اصول مطابق ئې زده کوي. او دغه اصول او قاعدې په ذهم کښې پخېږي. هر څو که د دې ګرائمر او قاعدو خبر نه وي خو دغه عمل په غېر شعوري توګه وده مومي.

پروفېسر خليل صديقي ليکي:

> "اہلِ زبان اپنی زبان سیکھنے کے لئے صرف و نحو کے محتاج نہیں ہوتے۔ بچپن سے ارد گرد بولنے والوں کا جو محاورہ سنتے ہیں وہی سیکھتے ہیں۔ دہراتے اور اسی پر قیاس کر کے کلمے اور اسالیب اختیار کرتے ہیں۔ ان میں تصحیح کرتے رہتے ہیں یا دوسرے تصحیح کر دیتے ہیں۔ غیر شعوری طور پر زبان کے قواعد ذہن نشین ہو جاتے ہیں۔"[6]

ترجمه:

اهل زبان يا د مورنۍ ژبې زده کوونکي صرف و نحو ته احتياج نۀ لري. وړوکوالي نه چې د ګېر چاپېره خلقو کومې محاورې اوري. هغه ئې زده کيږي او بيا بيا ئې وائي. او هم په د دغې په قياس نوې کليمې او نوې طرزے خپلوي. د غلطيو سمونه پخپله کوي يا د نورو خلقو له خوا کيږي او دسې په غېر شعوري توګه د ژبې قاعدې زده کيږي.

مطلب دا دے چې د مورنۍ ژبې ويونکي هم بې له ګرائمره او قاعدو ژبه زده کوي خو چې له پيدائشه يوه ژبه اوري او وائي نو د هغې قاعدو ئې په ذهن کښې جوړيږي. که هغه په دې نۀ

پوهېږي چې د ژبې قاعدې او اصــول څۀ دي خو بيا هم په وهبې تو ګه د خپلې ژبې اســتعمال د قاعدو مطابق کوي. او د مورنۍ ژبې په وېنا کښــې بې تعليمه خلق هم غلطۍ نۀ کوي. ځکه چې د ژبې د زده کړې طريقې چې ئې له چاپېرچل نه زده کړي پخپله او د نورو خلقو نه ئې نوې زده کړه هم کړې وي نو د ژبې سره سره ئې د هغې قاعدې هم زده کيږي.

کله چې د نورو ژبو خلق دغه ژبه زده کوي نو قاعدې او اصول په ئې زده کوي نو بي په دغه ژبه به په اسانۍ زده کيږي. مورنۍ ژبه ځکه د ګرائمر محتاجه نه چې دا د انسان د شروع نه ملګرے وي. او ګېر چاپېره هم دغه وئيلے او اورېدلے شي.

د ژبو په اړه څېړنه او سـپړنه په منظمه طريقه او د لسـاني نظرياتو او اصـولو په رڼا کښـې کول يا کېدل لسـانيات يا سـائنسـي مطالعه ده. د دې علم پوهانو ته ژب پوهان وئيلے شـي. هغوي د ژبې جوړښــت، تجزيه، تړون، تاريخ، وېش، ارتقائي ســفر، لفظي، معنوي يا صــوتي بدلون او د لسانياتو په مختلفو څانګو د خپلې پوهې آئينه ځلوي. نن سبا د لسانياتو علم سائنسي او عالمي رنګ اخستے دے.

د ژبپوهان د پاره دا ضــروري نۀ ده چې د هغۀ ګنې ژبې زده وي. او که چرې زده هم وينو يقيناً چې ښــه خبره ده خو د لســانياتو ماهر هغه دے چې د ژبې باره کښـــې علم او پوهه لري. د قاعدو او اصولو خبردار وي.

ډيوډ کرستل ليکي:

> "میری نظر میں لسانیات کا ماہر وہ شخص ہے جو کسی زبان کے بارے میں کہنے کی صلاحیت رکھتا ہو وہ ان اصولوں سے واقف ہو جن سے زبانیں عبارت ہیں اور اسے تفریق کے ان اقسام کا بھی علم ہو جو ایک زبان کے مقابلے میں دوسری میں ملتی ہیں"[7]

ترجمه:

زۀ په نظر ژبپوهان هغه دے چې د ژبې باره کښې د وئيلو د وئيلو اهليت لري. د هغه اصولو نه خبر وي. چې د ژبو بنياد دے. هغه فرق او بدلون د قسمونو نه هم خبردار وي چې د يوې ژبې د بلې سره وي.

ژبپوهان صرف د ژبو د تاريخي زنځير په کړو پسې نۀ ګرځي. نه ادبي ناقدري او نۀ د يوې ژبې په بله برترۍ کوشش کوي. ژبپوهان د نوې اصولو او طريقو مطابق په سائنسي بنيادونو کار کوي. هغه به دا کوشش کوي چې کوم اصول د جديد دور د تقاضو مطابق نۀ وي. په هغې کښې په ترميم او اضافې کوي . دغلطو تصوراتو سمونه به کوي ځکه چې غلط تصورات او نظرئې د نقصان نه خالي نۀ وي.

د ژبپوهنې په اړه ايچ اے ګلسين جونئير ليکي:

"لسانیات وہ علم ہے جس میں زبان کی اندرونی ساخت کے اعتبار سے اسے سمجھنے کی کوشش کی جاتی ہے۔ ہر کوئی انوکھا اور الگ تلگ علم نہیں ہے۔ ہاں اس کے تحقیقی حدود واضح اور متعین ہیں اور اس کا مخصوص اور مؤثر طریقہ کار خاصہ ترقی پا چکا ہے۔"[8]

ترجمه:ژبپوهنه هغه علم ته وئيلي شي چې په هغې کښې د ژبې د اندروني جوړښت په حواله د پوهېدلو کوشش کيږي. دا څۀ عجيبه او جدا علم نۀ دے. دا يوه خبره ده چې د دې حدود نه ښکاره او مقرر دي او د دې خاص او مؤثر انداز اوس ښۀ ترقي کړې ده.

د ژبپوهنې علم په دې جديد دور کښې ډېر اهميت او ارزښت مقام حاصل کړې او بين المللي افاديت او شهرت ئې موندلے دے. دې اړخ ته اوس خصوصي پام لرنه کولے شي. او په د يورپ، امريکې او د هندوستان په مختلفو پوهنتونونو کښې د لسانيات ځان له ځانګې جوړې شوي دي. د دې ژبپوهنې په اساس د لرغوني تاريخ انداز، هم لګولې شي. د ژبې د لفظونو شاته د هغه قوم ثقافت او تاريخ هم لټولي شي. د يو ژبې د بلې سره د تعلق او رشتې معلومات هم کېدلے شي. او د ژبې په جوړښت، ترتيب، ترکيب او غړونو د پوهې هنر هم لاس ته راځي.

## د لسانياتو تاريخ:

د لسانیاتو د سائنسي مطالعې تاریخ که هر څو د شلمې صدۍ عیسوي پېداوار ګڼلے شي او په دې کښې څۀ شک هم نشته چې د ژبې په سائنسي توګه څېړنه، مطالعه او نوي منظم انداز د نولسمې شلمې صدۍ کارنامه ده چې ابتدائي نخښې ئې په اتلسمه صدۍ کښې هم څۀ نا څۀ د تقابلي لسانیاتو په سلسله کښې مخې ته راغلي دي. که هر څو ورته مونږ سائنسي مطالعه نۀ شو وئیلے خو بیا هم د لسانیاتو په بابله د تاریخي څېړنې ثابتېږي چې په دې د شوي کار زمانه دومره لرغونې ده څومره چې مونږ سره د ژبې او لیک تاریخ لرغونے دے.

که د برصغیر د خاورې ژبپوهنه ده او که د یونان، روم او عرب ځانله ځانله اهمیت او حېثیت لري. د غور وفکر او پام لرنې جوګه اثاثه لري. که په عالمي پېمانه مونږ د ژبپوهنې د تاریخي منظر او پس منظر ذکر کونو نو اولیت ئې د برصغیر او بیا خصوصاً د پښتونخوا خاورې ته حاصل شوے دے. په دې سلسله کښې د پانیني نوم لافاني شهرت موندلے دے. که هر څو د هغه د ژوند او زمانې تعین کښې څېړونکو اختلاف دے. خو د هغۀ د مقام، کار او ژبپوهنې په حواله مؤرخین او ژبپوهان یوه خُلۀ دي او هم د دۀ د کار او زیار په وجه مغرب کښې د لسانیاتو د جدیدې څېړنې عمل دوام موندلے دے. ن چې د ژبپوهنې علم د سائنس کوم حېثیت او غوره مقام موندلے دے. بنیادي محرک ئې هم دغه پانیني دے. په دې خبره کې هم څۀ شک نشته چې د پانیني نه وړاندې هم په دې خاوره او هم په دې ژبه سنسکرت نور ژبپوهان هم تېر شوي دي. چې د ژبې او ژبپوهنې په بابله ئې اهم او منفرد زیار کړے دے. د برصغیر او عربیانو د ژبپوهنې بنیاد د مذهبي وو. د رېګ وېد د ز ده کړے، لوست او په پرې د پوهېدلو د پاره د دغې حفاظت ضروري وګڼلے شوه او د د غه ضرورت د پاره پرې د کار سلسله شروع شوه.

نعمت الحق خپل د پي ایچ ډي مقاله اردو لسانیات کښې لیکي:

> "لسانیات کی قدیم ترین روایت قدیم ہند میں نظر آتی ہے۔ جہاں ویدوں کی زبان کی تفہیم کے لئے لغات مرتب کی گئی۔ ویدوں کی زبان بول چال کی زبان نہ رہی تھی اور رفتہ رفتہ متروک ہوتی جارہی تھی۔ اس لئے اسکی تفہیم کے لئے لغت کی ضرورت محسوس کی گئی۔ قدیم ترین لغت جو دستیاب ہوئی۔ نگھنٹو (Nighautu) ہے۔ جو کسی ایک شخص نے مرتب نہ کی تھی بلکہ کئی مصنفینو کی کاوش کا نتیجہ تھی۔"[9]

ترجمه:د ژبپوهې لرغونې تاريخ په لرغوني هند کښــې په نظر راځي چرته چې د ويدونو پوهېدنې له پاره لغاتو نه مرتب کړې شوي دي. د وېدونو ژبه د عامو خلقو د روزمره ژبه نه نو ځکه ورو ورو ختمېدله. په دغه وجه د دې د حفاظت د پاره د لغتونو مرتب کولو ته اړتيا پېښه شوه. .... لرغونې لغت چې لاس ته راغلې دے. د نگنټو په نامه شــهرت لري. چې د ګڼو ليکونکو د زيار په نتيجه کښې مخې ته راغلې دے.

دغسې د سنسکرت ژبې د ژبپوهنې ابتداء و شوه چې ببلامه ئې د لغت يا فرهنګ په شکل کښې مخې ته راغله. د وېدونو ژبه د خاصــو خلقو ژبه وه. او کله چې ژبه اولســـي نه وي نو خپل وجود برقرار نۀ شي ساتلې. ځکه چې ژبه اولسي څيز دے او معاشره کښې وده مومي. ژبه د خاصـانو محتاجه نۀ وي اولسـي، معاشـرتي څيز دے. او عامو خلقو ته احتياج لري. په دغه وجه دغې ژبې ته د ورکېدلو خطره پېښـــه شــوه نو د دې د حفاظت د پاره ژبپوهانو او عالمانو د لغت يا فرهنګ ليکلو هڅه وکړه. د صـرف د سـنسـکرت ژبې د حفاظت سـبب نۀ شـو بلکې د عالمي ژبو په تاريخ کښې هم بنيادي اساس محرک په طور د اهميت جوګه شو. پانيني د ژبپوهنې په تاريخ کښې د ډېر لوئې اهميت څښـــتن دے. خو اولنې ژبپوهان نۀ دے چې دې اړخ ته ئې پام لرنه کړې ده. پانيني پخپله د څلورو شـــپېتو پېشـــرو قواعد پوهانو ذکر کړے دے."[10] خو ددې پوهانو کار او زيار په انفرادي توګه مخې ته نۀ دے راغلې.

"زبانی اعتبار سے دیکھا جائے تو لسانیات کی ابتداء، نشو و نما اور اس کے تشکیل قوانین سے شناسائی کا پہلا چراغ پانچ سو قبل مسیح میں روشن ہوا۔ جب برصغیر میں پانینی نے سنسکرت زبان کے اصول و ضوابط مدون کئے۔ اس کی نگارشات میں ایسے حوالے بھی ملتے ہیں جن سے کھلتا ہے کہ اس خطے میں صدیوں سے یہ کار خیر جاری تھا۔ ادھر لاطینی اور یونانی ثقافتیں سنہری دور میں داخل ہو چکی تھیں اور لسانی سرگرمیاں عروج پر تھی۔ اس سلسلے میں سقراط اور افلاطون خاصے فعال دکھائی دیتے ہیں۔ اسی عہد کے دھند میں یونانی ماہر لسانیات اپولونیس ڈائیکولس بھی چہرہ نما ہے۔ جس نے نحو(Syntax)، مفہومیات (Semantics) ، صرف (Morphology)، علم عروض وغیرہ پر تیس سے زائد

مقالات قلم بند کئے۔ چوتھی صدی عیسوی میں اے لیس ڈونیٹس نے لاطینی گرائمر مرتب کی جو سینکڑوں برس اہل یورپ کے لئے رہنما خطوط فراہم کرتی رہی۔"[11]

ترجمه: کۀ په ژبه غور سره نظر و شي نو د ژبپوهنې د ابتداء قاعدو اولنې څرک د عیسیٰ نه پینځه سوه کاله وړاندې په نظر راځي. کله چې برصغیر کښې پانیني د سنسکرت ژبې اصول او قاعدې جوړې کړے د هغه په لیک کښې داسې نمونې هم مخې ته راځي چې د هغې دا ثابتېږي چې په دغه خاوره د ژبپوهنې کار له هغۀ نه وړاندې هم جاري وو.

بل اړخ ته لاطیني او یوناني ثقافت هم زرین دور کښې داخل شوے وو او لساني سرګرمۍ عروج ته رسېدلي دي. په دې سلسله کښې د سقراط او افلاطون نامې د اهمیت وړ دي. د دغه دور په خړه کښې د یونان ژبپوهان اپولوینس ډائیکولس هم په نظر راځي. هغه په نحو، معنویات، صرف او د غروضو په علم د دېرشو نه زیاتې مقالې او مضمونونه لیکلي دي. په څلورمه صدي عیسوي کښې اے لیس ډوینتس د لاطیني ژبې ګرائمر مرتب کړو چې په سوونه کاله د یورپ د پاره نمونه وګرځېدو.

په دې حواله کښې عمومي طور يوه جائزه اخستې شوې ده. د ژبپوهنې بنیادي کار او زیار د پانیني د دورنه شروع کېږي او شهرت ئې هم د هغه په وجه دے. که د هغۀ وړاندې څۀ کار شوے هم دے نو د هغې سر سري ذکر د پانیني په حواله راغلے دے. هغه وخت کښې د علم حاصلولو او سنسکرت د زده کړې حق برهمنو ته حاصل وو او نورو عامو خلقو د دې حق نه محروم وو. ځکه چې سنسکرت ژبه عامه نۀ وه. دا د مذهبي خلقو مقدسه ژبه وه. نو دغه وجه وه چې دې ژبې ته د متروک کېدلو خطره وريپېښه شوه. د دې د حفاظت د پاره قاعدې، اصول او ګرائمرونه ولیکلے شو.

خلیل صدیقي په دې اړه لیکي:

"قدیم ہند میں سینہ بہ سینہ منتقل ہونے والے ویدک سمتے، حمدیہ اور دعائیہ مصرعے، اشلوک او منتر، جس زبان میں تھے، وہ مروجہ نہیں رہی تھی۔ دوسری ارتقاء پذیر زبانوں کے صوتی نظام کچھ مختلف تھے۔ اس لئے قربانی (عبادت) کی رسوم بجالاتے وقت مقدس متنوں کے ادا کرنے

میں غلطیاں ہو سکتی تھی اور ہوتی بھی تھیں۔ اس لئے اس کے تقدس کو محفوظ رکھنے اور قربانی یا عبادت کا حق ادا کرنے کے لئے تلفظ کی صحت برقرار رکھنا لازمی تھا۔ چنانچہ زبان کے قواعد و ضوابط کی تدوین، مخارج ادا اور اجزائے اصوات کے طریقوں کی وضاحت کی طرف توجہ دی گئی۔"[12]

ترجمه:په لرغوني هند کښې د وېد ، حمديه، دعائيه مصرعو ، اشلوک او منترونه چې په کومه ژبه کښې موجود وو. هغه ژبې عامه مروجه نۀ وه پاتې شوې. او د نورو ژبو غړېز نظام مختلف وو. ځکه د عبادت رسمونو پوره کولو او مقدس ليک په تلفظ او ادائيګۍ کښې د غلطۍ امکان وو او يقيناً کېدله به هم. د دې د تقدس د حفاظت او د عبادت حق ادا کولو د پاره د تلفظ په اهميت ډېر وو. د دې د برقرار ساتلو د پاره د قاعدو او اصولو تدوين، ادائيګۍ او د غړېز نظام د وضاحت په سلسله کښې ګرائمر او صوتياتو اړخ ته پام لرنه وشوه.

چا چې د ژبپوهنې اړخ ته پام راګرځولے او د ژبې د قاعدو او اصولو ليک ته ئې صحيح معنو کښې رواج ورکړے دے. هغه د صوابۍ ضلعې د مشهورې علاقې لاهور وسېدونکے دے. د دغه ژبپوهان پانيني د ژوند او زمانې باره کښې تاريخ ليکونکي يوه خُلۀ نۀ دي او د دۀ د پېدائشې باره کښې مختلف رائې لري. څوک ئې اتۀ سوه کاله قبل مسيح ګڼي. پروفېسر بهنډار کر ئې زمانه د وومې صدۍ د مخه ښودلې ده.

عبدالشکور رشاد د خو پوهانو په حواله ليکي:

"د مهارشي پانيني د ژوند زمانه په يقيني ډول نۀ ده څرګنده، خو دا باوري خبره ده چې د مهارشي پانيني ژوند تر ۵۰۰ ق م را په دېخوا نۀ وو. ځينې کسان داسې هم شته چې د مارشي پانيني زمانه ۸۰۰ ق م په شا و خوا کښې ټاکي. پروفېسر مکس مولر د مهارشي پانيني ژوند د څلورمې صدۍ په مېنځ کښې ښودلے دے. د "پنجه تانتره" په روسي ترجمه جي د تبصرې تر عنوان لاندې څۀ څېړنې شوي دي. هلته هم د مهارشي پانيني زمانه تر ميلاد څلور سوه کاله پخوا ښول شوې ده." [13]

د پانیني زمانه د محتاطې اندازې تر مخه پينځۀ سوه کاله قبل مسيح ټاکلې کېدے شي او هم دا سړے چې د سنسکرت ژبې د ګرائمر ليکونکو کښې د ډېر اهميت خاوند دے. د دۀ ګرائمر پانینم يا اشټ ادهيائې د عالمي شهرت حامل دے او ابتدائي ګرائمرونو کښې شامل دے.

نصير احمد خان ليکي:

"چوتھی صدی ق م کی "اشٹ ادھیائے" نامی قوائد میں سنسکرت زبان کی ساخت سے متعلق چار ہزار معقولے ملتے ہیں۔ اسی طرح مختلف صوتی اور صرف و نحوی اصول سامنے آئے اور طریق کار قواعد اصول و تصورات سے متعلق رجحانات کا اغاز ہوا۔ جن میں سے بعض جدید لسانیات میں آج بھی استعمال ہوتے ہیں۔"[14]

ترجمه: په څلورمه قبل مسيح کښې "اشټ ادهيائے" نومې ګرائمر کښې د سنسکرت ژبې د قاعدو او د ژبې د جوړښت باره کښې څلور زره اصول ذکر شوي دي. دغسې مختلف غږيز، صرفي او نحوي اصول مخې ته راغلي دي. چې د کومو طريقو، قاعدو، اصولو او تصوراتو ذکر شوے دے. په هغو کښې اوس هم بعضې په جديدو لسانياتو کښې وجود لري.

د پانيني شهرت په دې هم دې چې د هغۀ جوړ کړي شوي اصول او قاعدې د دومره ارزښت سبب شول چې د هغۀ وړاندې ليکلے شوے غير ويدي ادب او ليک سر دوباره د هغۀ د اصولو مطابق ترتيب کړے شو او د هغۀ پس هم د هغۀ پيروي کېدله. پانيني د خپل علم وفضل په وجه مهارشي يعنې لوئے استاذ بللے شو او د دۀ کلام ته الهامي درجه حاصله وه.

"پانيني د سنسکرت ژبې يو پوهه ماهر ؤ. دۀ د سنسکرت ژبې داسې مختصر، کوټلے او سائنسي ګرائمر ليکلے ؤ چې تر ننه پرې څېړنې کيږي. ولې ثاني ئې نشته. دۀ سنسکرت ژبه دومره سوچه او پاک شکل کښې محفوظه کړې وه چې د سنسکرت نهمه نوي في صده غير ويدي ادب هم د پانيني په ژبه کښې دے."[15]

د ژبپوهنې په تاريخ کښې پانيني ته د کلاسيک درجه حاصله ده. او د هغۀ د ژبپوهنې اثر نه صرف په علاقائي ژبو شوې دے بلکې نورې ډېر ژبې ئې تر اثر لاندې راغلې دي.

د پانیني نه پس د سنسکرت ژبې لوئې ماهر کاتیائین ګڼلې شي. د دهٔ ګرائمر "وارتک" ته د لسانیاتو په تاریخ کښې ډېر اهم مقام حاصل دے. او څنګه چې د پانیني د زمانې او ځائې باره کښې اختلاف دے دغه شان د کایائین هم دے. د مؤرخینو له خوا ددهٔ د زېږدې کال د پینځویشت ق م نه تر څلور سوه ق م ښودلے شوے دے. د دهٔ ګرائمر د "پانیم" تفسیر ګڼلے شي. د پانیني ځینې کمۍ او خامۍ ئې هم په ګوته کړي دي او د هغې تصحیح ئې هم کړې دے.

د دهٔ نه پس بل مشهور ژب پوهان د "مهابهاشه" ګرائمر لیکونلے پتن جلي دے د دهٔ د ژوند زمانه دوېمه صدي ق م ټاکلي شي. پتن جلي د ژبې د قاعدو او اصولو د پابندۍ قائل وهٔ. هغهٔ د کاتیائن د اعتراضونو جوابونه کړي دي کوم چې ئې په پانیني کړي وو. د هغهٔ د کار جائزه ئې هم اخستې ده او د خامیو سمونه ئې هم کړې ده. د تین جلي ګرائمر تعلیم یوه مذهبي فریضه ګڼي او دا چې د تعلیم دوران کښې به برهمنو بچو ته د ګرائمر علم اول ورکولے شي او د دې نه پس په د وید علم حاصلوي.

د کاتیاین او تین جلي دواړو کتابونه کهٔ هر څو د ګرایمر کتابونه دي خو په صوتیاتو او تلفظ ئې هم خپله پوهه څرګنده کړې ده. نزدې نزدې په هم دغه دور کښې د یونان په خاوره او ژبه کښې هم لسانیاتي نخښې نخښاني مخې ته راغلي دي. د ژبې په جوړښت او اهمیت بحث شوے دے د یونانیانو د ژبوهنې کار د افلاطون او ارسطو نه شروع کیږي. رومیانو هم ترې استفاده کړې ده او دغسې په ژبپوهنه کښې نوې نوې لارې څرګندې شوي. د ژبې په اړه افلاطون هم خپل خیال څرګند کړے ده. د ژبې په ابتدا لفظ او معنې او د دې په خپلو په تړون ئې خره کړې ده.

زرغونه رښتین زېور لیکي:

> "افلاطون د یونان نامتو فیلسوف د لویدیځې نړۍ عالم دے چې د ژبې حقیقت او څرنګوالي په باب ئې څېړنه کړې له هم دې امله د ژبپوهنې بنسټ ایښودونکے او د باقاعده ګرائمر(systemic Grimer) جوړونکے ګڼل شوے دے. د افلاطون څخه وروستو د ارستو نظریه د ژبې په باره کښې د څېړنې او ارزښت وړ ده. د ژبې په باب ارسطو د افلاطون پر خلاف داسې عقیده لرله چې ژبه فطري نهٔ ده بلکې یو ټولنیزه او اتفاقي پېښه ده. او کلمات د خارجي دنیا د مظاهرو د

پاره سمبولونه کڼلي دي. په دې توګه ارسطو لومړنې مفکر وٶ چې د الفاظو ډلبندي او وېش مفکوره ئې را منځته کړې او کلام ئې په درېو برخو لاسم، فعل او حرف ویشلے دے." [16]

د ارسطو (Aristotle) ( ۳۸۴ – ۳۲۳ ق م ) دا خیال وٶ چې د لفظ او معنې تړون او رشته ضروري نهٔ ده چې فطري او قدرتي وي. ژبه د لفظونو جوړه ده خو لفظ نه معنې د څهٔ خاص اصولو تر مخه ورکولے شي. لفظ یو صوتي علامت دے. د یو څیز انځور نهٔ وي. هغه ژبه د کلام په مختلفو ځانګو یا حصو ووېشله چې اوس هم څهٔ نا څهٔ هم هغسې استعمالېږي. هغه ګرائمر د منطق یوه حصه ګڼي. د ارسطو په شاګردانو او پېروکارو کښې د هغهٔ د اصولو مقبولیت دومره زیات وو چې تر ډېر وخت ئې پالنه او روزنه جاري وه. هم دغسې ډائینو سیس تهریکس دوېمې صدۍ قم د ژبې قاعدې او اصول مقرر کړل. د دهٔ ګرائمر او اصول د یورپ په خلقو کښې تر زرو کلونو خپل افادیت برقرار وساتلو. د روم او اټلي خلقو هم د یونانیانو د کار او زیار نه استفاده کړې ده.

د لاطیني ژبې ماهر ایلي اس ډویتس دوېمې صدي عیسوي کښې نوم پېدا کړو. او پریشین (۵۱۲ – ۵۶۰) د شپږمې صدۍ دروند نوم دے. په روم کښې هم ګرائمر، منطق او حطبت ته ډېر اهمیت حاصل وو او د دې د ودې د پاره ئې هلې ځلې کولې.

یوناني عالمانو خپله ژبه د ټولې دنیا د ژبو نه غوره ګڼله او د نورو قومونو ژبې ئې وحشي او غېر متمدن ګڼلې. دغه وجه ده چې د فتوحاتو باوجود ئې د نورو ژبو نه څهٔ حاصل نهٔ کړل او نهٔ ئې د هغې باره کښې معلومات وړاندې کړي دي.

په مغرب د یوناني او لاطیني لساني اثرات زیات وو. خو د پانیني د ګرائمر او نورو د ژبپوهنې په وجه او د سنسکرت دصوتي علم، ګرایمر اصولو او اصطلاحاتو په وجه په مغرب د لاطیني او یوناني ژبو اثر کم شو. او د سنسکرت د پوهانو نه ئې استفاده وکړه. برطانوي ژبپوهان دا اعتراف کوي چې د سنسکرت یا قدیم هندد ژبپوهانو د پوهې، علم او زیار نه د بې برخې پاتې کېدلو په صورت کښې د نولسمې صدۍ د لسانیاتو، صوتیاتو او ژبپوهنې د دې سائنسي مقام تصور هم نهٔ شو کېدلے.

## عربي ژبه او لسانيات:

په عربي ژبه کښې د ژبې او ژبپوهنې باره کار د اسلام په اولني دور کښې شروع شوے دے. څنګه چې د سنسکرت ژبې د ژبپوهنې بنياد په مذهب وو. دغسې د غربي ژبې اساس غم دغه وو او د اسلام په ابتدائي دور کښې د لسانياتو اړخ ته خصوصي توجه ورکړې شوه. د صرف و نحو، لغات، معنې، اشتقاق، اصوات، ګرائمر او قاعدې ته پام ګرځولے شوے وو.

ابو الاسود د عربي ژبې د قاعدو اولنې پوهان ګڼلے شوے دے او وئيلے شي چې د حضرت علي نه ئې په دې علم کښې استفاده کړې وه. ابولاسود يو ځل د يو سړي د قرآن پاک د آيتونو غلط تلفظ واورېدو نو د هغې نه پس ئې د عربۍ د صرف و نحو د دتدوين ضرور محسوس کړو. بيا د دغه قاعدو له برکته د غږ پوهنې، د دې د مخارجو او درجه بندۍ علم هم ترقي وکړه. او بحث پرې روان شو. د صحيح تلفظ، قرات، قاعدو او اصولو ته لاره جوړه شوه. د ځينې خلقو خيال دے چې د قرآن پاک د تجويد تر تيل يا صحيح توګه د لوستلو د علم ابتداء د عبدالله ابن مسعود نه کيږي. په عربۍ ژبه کښې د ژبپوهنې علم او خصوصاً د جديد دور د تقاضو مطابق علم دولس ديارلس سوه کاله لرغونے تاريخ لري. اهل مغرب دعربۍ ژبې نه ناخبره وو. ځکه ئې ترې په وخت استفاده نۀ ده کړے. او کله چې د مغربي دنيا عروج شروع شو نو هغوي مترقي ژبې هم زده کړے او استفاده ئې ترې وکړه.

د ژبې په لغت، معنې، جوړښت، استقاق او غږيز نظام باندې ابن النديم، سيوطي او ابن ابي اسحاق ابتدائي علم وړاندې کړے دے.

د عروض، صرف و نحو او لغت په حواله خليل بن احمد ۷۱۸ ء د عربۍ مستند ژبپوهان دے. د هغۀ مشهور کتابونه "کتاب الاعيان" او "العروض" دي. اولني د صرف و نحو او د حرفونو د تلفظ نمائندګي کوي. او دوېم ګرائمر هم کتاب دے.

د خليل بن احمد نه پس د هغۀ شاګردانو دغه کار په مخکښې بوتلے دے په هغو کښې مشهور شاګرد او عالم سيبويه ۷۹۳ء د صوتياتو يا غږ پوهنې اړخ ته خصوصي پام ګرځولے وو او په خپل اثر "الکتاب" کښې ئې د عربي ژبې اوازونو، ترتيب او درجه بندۍ خصوصي کار کړے دے.

دغسې په علم الاشتقاق د اسمعي ۷۳۱ء اثر " کتاب الاشتقاق" بهترین کتاب دے. د ابو عثمان المازني ۸۲۳ء "تعریف المازني" د صرف د علم مشهور کتاب دے.

ابو الفتح عثمان بن حي ۲۹۲ نومبر) د صرف و نحو او غږ پوهنې استاد او مشهور عالم دے. په حروف علت او حرفو صحیحه ئې ...... کتاب سر الضاعة و اصرار البلاغه" لیکلے دے.

د دهٔ په ژبپوهنه بل مشهور کتاب " کتاب الخائص في علم اصول العرپیه" دے. نور ئې "الخصائس في النحو" او "التعریف الملوکي" نه هېرېدونکي اثار دي.

د ابو القاسم محمود بن عمر الزمحشري ( ۱۰۷۵ – ۱۱۴۴ء) په عربۍ قواعدو او مخارجو "المفصل او جو اهر اللغهٔ مستند آثار لیکلے دے. دغسې د جلال الدین اسیوطي "المزهر" د ابن الحاجو" الشافیه" او القافیه د صرف ونحو کتابونه دي. د عیسی بن عمر الشفقي "المکمل" او "مبادي الغه" د ژبپوهنې په حواله معتبر حېثیت لري. د دې کتابونو مغربي ژبپوهانو هم استفاده کړې دي.

په سن پنځوس هجري کښې رضي الدین حسن بن محمد امنعاني اسماء الذهب، ابي عبیده معمر بن المثنیٰ البصري، ۲۰۷هـ اسماء الخیل، ابو العباس محمد بن یزید ۲۸۵هـ کامل في اللغة، ابي الطیب عبد الواحد ، الغوي، ابوبکر محمد بن الحن بن درید ۳۲۱هـ الجهرة في اللغة، حسن الزبیدي لاشبلي ۷۹ هـ، طبقات العویین و النحاة، احمد بن ابان اندلسي اللغوي ۳۸۲هـ، العالم و اللغه، ابن الفارس ابو الحسن القرویني ۳۹۵هـ مجمل اللغة شیخ عبد الواحد بن علي بن برخان اللغوي ۴۲۳هـ اصول اللغة، ابو طاهر محمد بن یعقوب ایفرور آبادي ۴۷۴هـ البلغة في تراجم النحو و اللغة سلمان عبد الله الحضرواني ۴۹۴هـ "قانون في اللغهٔ"، سعید بن احمد المیداني ۵۳۹هـ، غرائب اللغة او غریب اللغة لیکلي دي.

ابو جعفر احمد بن یوسف القهري الیلیی ۷۱۷هـ. البعیة في اللغه النحو و اللغه ، امام مجدد الدي محمد بن یعقوب الفیرو ابادي ۸۱۷هـ "القاموس المحیط و القابوس" جلال الدین السیوطي ۹۱۱ هـ " سدرة العرب" او لمغه الا شراق في ا شتقاق، او دغسې نور ډېرژبپوهان او عالمان دي چې د عربۍ ژبې په ژبپوهنه ئې کتابونه لیکلي دي. د دوي د ژبې په اړه نظریات، افکار او څېړنه

د جدید مغربي لسـانیاتو نه په هېڅ صـورت کمه نۀ ده، خو په عربۍ د نۀ پوهېدلو په وجه مغربي او نورې غېر عربي مترقي ژبو ترې هغسې استفاده نۀ ده کړې څومره چې پکار وه.

## مغرب او لسانیات:

په یورپ د لسـانیاتو په حواله په سـائنسـي بنیادونو کا په نولسـمه او خصـوصـاً په شـلمه صـدۍ کښې شروع شوے دے. ابتداء کښې د جدیدې ژبپوهنې بنیاد فرانس او جرمني کښې شروع شو او بیا ئې یورپ او امریکه کښې هم وده بیاموندله.

سید احتشام حسین لیکي:

"زبردست علمی ترقی کے باوجود یورپ نے اٹھارویں صدی کے نصف تک زبان کے سائنٹیفک مطالعہ کی جانب توجہ نہیں کی تھی۔ سرسری طور پر بعض زبانو کی مماثلت اور مشابہت پر غور کر لیا جاتا تھا لیکن جب ہندوستان یورپین اقوام کی جولاں گاہ بنا تو یہاں کے علوم وفنون اور زبان وادب کے متعلق انہیں معلومات حاصل کرنے کی ضرورت پیش آئی۔ عیسائی مشنریوں کی معمولی کوششوں کے بعد سب سے پہلی انقلابی کوشش سر ویلم جونز کی تھی جس سے تقابلی لسانیات کی بنیاد یورپ میں پڑ گئی اور تھوڑی ہی مدت میں "بہت مستشرقین پیدا ہوگئے۔ جنہوں نے سنسکرت، یونانی، لاطینی اور قدیم جرمن زبانوں کا تقابلی مطالعہ کر کے لسانیت کو ایک زبردست علم بنا دیا، جس کا رشتہ حیاتیات، طبعیات، تاریخ، علم الاثار جغرافیہ اور نفسیات وغیرہ سے قائم ہو گیا۔"[17]

ترجمه:یوپ دعلمي ترقۍ باوجود د اتلسمې صدۍ تر نیمائي پورې د ژبې د سائنسي مطالعې اړخ پام لرنه نۀ وه کړې. د بعضې ژبو په یو شان والي څۀ نا څۀ غور په کېدلے شو. خو کله چې یورپي قومونه هندوسـتان ته راغلل نو دې خاورې د علم او فن، د ژبې او ادب باره کښې د معلوماتو ضـرورت محسـوس کړو. د عیسـائي مبلغینو د ډېرو لږو کوشـشـونو نه پس وړومبې انقلابي قدم سر ویلیم جونز پورته کړو. دې سره په یورپ کښې د تقابلي ژبپوهنې بنیاد کښېودلے شـو او په لږ وخت کښـې ډېرو مسـتشـرقینو د سـنسـکرت، یونان، لاطیني او لرغونے جرمني ژبو

تقابلي مطالعه شروع کړه. چې د ژبپوهنې په مېدان کښې نوې رنګونه برخېره شول، چې رشته ئې حیاتیات، طبعیات، تاریخ، د آثارو علم، جغرافیه او نفسیاتو وغېره سره قائمه شوه.

سر ویلیم جونز د ایسټ انډیا کمپنۍ له طرفه د هائي کورټ د جج په عهده کار کولو خو دژبو په اړه ئې هم د مطالعې شوق او د څېړنې ذوق لرلو. په ۱۷۸۶ء کښې ئې د خپلې څېړنې په اساس دا دعوىٰ وکړه چې سنسکرت، یوناني او لاطیني ژبې د یو ماخذ سره تعلق لري. د دې نه پس مغربي ژبپوهانو دې اړخ ته توجه وکړه او د لسانیاتو دا اړخ د زړۀ پورې کار او معیار جوګه شو او د راتلونکو د پاره محرک وګرځېدو.

د ویلیم جونز دا تقابلي جائزه په یورپ کښې هم څۀ اولنې قدم نۀ وو. د دۀ نه وړاندې د شپاړسمې صدۍ په اخري څلورمه حصه کښې پي ساسیټ (P.sassette) د سنسکرت او اطالوی تر مېنځه د مطابق اشارې وړاندې کړې وې او په ۱۷۶۸ء کښې د فرانس یو پاردي کورډو د سنسکرت، لاطیني او یوناني ژبو جائزه اخستې وه. خو دا خبره هم یقیني ده چې تقابلي جائزې نه شهرت د ویلیم جونز په وجه حاصل شوے دے.

سهېل بخاري لیکي:

> "ولیم جونس کا مقالہ اس لحاظ سے لسانیات کے خاموش تالاب میں پہلا کنکر ثابت ہوا جسکی پیدا کی ہوئی لہروں نے پوری انیسویں صدی عیسوی میں ہلچل مچائی رکھی۔ اس سے زبان شناسوں میں زبانوں کے موازنے اور مقابلے کی تحریک پیدا ہوئی اور لسانیات میں ایک نئے شعبے تقابلی لسانیات کی بنیاد پڑی۔"[18]

ترجمه:د ویلیم جونز مقاله د ژبپوهنې په حواله د ډېر ارزښت لرونکې څکه ثابته شوه چې د دې په وجه د ژبپوهنې علم ته په نولسمې صدۍ کښې منفرد مقام حاصل شو. د دې په وجه ژبپوهانو کښې د مختلفو ژبو د موازنې او مقابلې تحریک پېدا شو. او په ژبپوهنه کښې د نوې څانګې تقابلي ژبپوهنې اضافه ووشه. ویلیم جونز خپله مقابله د "ایشیا ټک سوسائټي آف بنګال" په درېم سالانه اجلاس ۱۷۸۶ء کښې اورولې وه. د دې سوسائټي بنیاد هم ویلیم جونز ۱۷۸۴ء کښې اېښودلے وو. د دۀ نه پس د جرمني فریډرک شلیګل (Friedrich Schlegel) په ۱۸۰۸ء کښې د

سنسکرت او یورپي ژبو د لفظونو، صرف او نحو د مماثلت جائزه واخسته او خصوصاً د لاطیني، جرمني، یوناني او سنسکرت تر مېنځه د ژورې رشتې او تعلق د مطابقت ثرګندونه ئې وکړه او په اول ځل ئې د تقابلي لسانيات (Comparative Linguistic) اصطلاح استعمال کړه. هم د جرمني بل ژبپوهان فرانزبوپ (Franz Bopp) د فارسي، سنسکرت او نورو یورپي ژبو د تقابل نه ثابته کړه چې د لرغونو اریائي ژبو ماخذ یو دے.

مستشرقینو د برصغیر د علاقې ژبې د خپل غرض او مقصد دپاره زده کولې، چې په دې کښې انتظامي امور او د عیسائیت تبلیغ هم شامل وو. ځینې علمي خلق د څېړنې په غرض هم راغلي وو. دا هم وه چې د کوم افسر ته به د کومې علاقې ذمه واري سپارلې شوه نو هغه د پاه به د هغه علاقې ذمه واري ضروري وو او د دې مراعات به هم ورکولے شو ځکه چې د دې په وج په انتظامي امورو کښې ډېر فائدې او اسانې وې. کۀ هر څو دغه مستشرقینو د خپل عرض او مقصد د پاره مشرقي ژبې زده کولې نو دې سره سره د دې سیمې د ژبو هم خوش نصیبي وه چې یو څو ئې اثار محفوظ شول او بل دې ژبو ته د لسانیاتي او جدیدو څېړونو لارې جوړې شوې. د ویلیم جونز نه علاوه د ژبپوهنې په مختلف اړخونو هنري تهامس کول بروکس (۱۷۲۵ء – ۱۸۳۲ء) ، فان همبولت (Humboldt) ۱۷۴۷ – ۱۸۳۵ء ریز مس راسک ( ۱۷۸۷ء ۱۸۲۳ء ) پاټ ( ۱۸۰۲ء ۱۸۷۸ء،) میکس مولز ( ۱۸۳۲ ء – ۱۹۱۰ء) ویلیم وائټے ( ۱۸۲۷ء – ۱۸۹۴ء) ، کارل برګ مین ( ۱۸۴۹ء ۱۹۱۹ء) ستېین تهال )۱۸۲۵ء – ۱۸۹۹ء) کالڈ ویل ( ۱۸۱۴ء ۱۸۹۱) رے جیکنډوف ، لوډرویک نایسو، جارج سمتهـ او نور ډېر ژبپوهانو د ژبې په باره کښې د خپلو خیالاتو او نظریاتو ثرګندونې کړي دي. د ژبپوهنې څانګې په سائنسي بنیادونو ترقي کړې ده.

ډاکټر خالد خان خټک لیکي:

> "۱۹۵۰ء د کال نه وروستو په دغه علم کښې هغه وخت یو انقلاب راثرګند شو چې کله د امریکې د لسانیاتو یو مشهور ماهر پروفیسر نوام چامسکي د ژبې باره کښې خپله نوې نظریه وړاندې کړه او هغه دا وه چې مونږه یو ژبه زده کوو نو د دغه ژبې محدود او مختصر قواعد زده کوو او بې د دغه قواعدو په مدد سره بې شمېره جملې جوړوو او هر قسم خبرې کوو." [19]

د ژبپوهنې په تاریخ کښې د نوام چامسکي ډېر لوئے او معتبر نوم دے. د لسانیاتو ئې اهم او زړۀ پورې زیار کړے دے او دۀ نه پس هم ډېرو ژبپوهانو ډېر اهم پشرفت کړے دے. او دغې سائنسي ژب څېړنې په وجه د ژبپوهنې ډېر څانګې د بیل بیل ارزښت او اهمیت قابلې شوې. څو څانګې دا دي: 1. تشریحي لسانیات ۲. تقابلي لسانیات۳. تاریخي لسانیات۴. عام لسانیات.۵. اطلاقي لسانیات. ۶. سماجي لسانیات. ۷. نفسیاتي لسانیات. ۸. حیاتیاتي لسانیات.

دغسې د ژبپوهنې اهم اجزاء، صرف (Morphology) نحو (Syntax) معنیات (Semantics)، غږپوهنه Phonetic او Phonemics دي.د لسانیات یا ژبپوهنې په وجود کښې غږ پوهنه، صرف، نحو، معنیات، لفظیات او فونیمیات اهم کردار لوبوي.

# حوالې

[1] خلیل صدیقی، زبان کا مطالعہ، مستونگ، قلات پبلشرز، ۱۹٦٤، ص ۲۳

[2] فضل میر خټک، فضلیات، ۱۹۹۹ء، مخونه ۳۴۹- ۳۵۰.

[3] Lado , Robert, Langage teaching: A Scientific approach, London, Mac Graw Hill, 1964, p 11, 12

Martyn Gray, A Dictionary of Litray terms, 2nd edition, England, longman your press, 1992, p 166[4]

[5] ہندوستانی لسانیات

[6] خلیل صدیقی، لسانی مباحث، کوئٹہ، زمرد پبلی کیشنز، ۱۹۹۱، ص ۲۰۱

[7] ڈیوڈ کرسٹل، لسانیات کیا ہے، مترجم نصیر احمد خان، لاہور، عبداللہ اکیڈمی، ۲۰۱۷ء، ص ۲۰

[8] ایچ اے گلیسن، جونیئر، توضیحی لسانیات، لاہور، بک ٹاک، ۲۰۱۸ء، ص ۲

[9] نعمت الحق، اردو لسانیات، پی ایچ ڈی، مقالہ، ملتان، بہاءالدین زکریہ، ملتانی، یونیورسٹی، ۱۹۹۵ء، ص ٤

[10] ابواللیث صدیقی، ڈاکٹر، جامع القواعد، لاہور، مرکزی اردو بورڈ، ۱۹۷۱ء، ص ۱٦۔

[11] سیف اللہ خالد، پروفیسر، دیباچہ، لسانی مطالعے، فیصل آباد، مثال پبلشرز، ۲۰۱۲ء، ص ۱۲

[12] اوازشناسی، ۱۲

[13] عبدالشکور رشاد، پوهاند، لغوي څېړنه، کندهار، علامه رشاد اکاډیمي، ۲۰۰۹ء، مخ ۳۸۷.

[14] نصیر احمد خان، ډاکټر، اردو لسانیات، دهلي، اردو محل پبلي کیشنز، ۱۹۹۰ء، ص ۱۵

[15] بشریٰ خاتون، ډاکټر، د پاڼیني د ژبړدنې زمانه او زدکړې، د مقام کشاله، مشموله، پښتو، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون، جنوري – جون ۲۰۱۵ء، مخ ۵۹

[16] زرغونه رښتین زیور، ډاکټر، پښونخوا، پېښور، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۲۰۰۳ء، مخ ۷

[17] هندوستاني لسانيات، ص ۱۱

[18] سہیل بخاری، ڈاکٹر، اردو زبان کا صوتی نظام اور تقابلی مطالعہ، اسلام آباد، مقتدرہ قومی زبان، ۱۹۹۱ء، ص ۱۰۲۔

[19] خالد خان خټک، ډاکټر، د ژبپوهنې تدریس او په نصاب کښې اهمیت، مشموله، پښتو، پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون، جنوري – مارچ ۲۰۰۵، مخ ۷.